ژوزف ستالین (۱۹۵۰)
ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۷ جون ۲۰۱۹

## د ژبپوهنې مسئلې
## (د ژبپوهنې د مسئلو په اړه د مارکسیزم لید)
## (۶)

**ملګرو ته ځواب**

**ملګري سانژیف ته**

ښاغلی ملګری سانژیف،

لیک ته مو له ډیر ځنډ وروسته ځواب وایم، ځکه چې همدا پرون یې ستا لیک د مرکزي کمیټې له سیستم څخه ما ته راولیږو. بې له شکه د ګړدودونو په اړه زما دریځ مو په سمه توګه تفسیر کړی دی. «طبقاتي» ګړدودونه چې ښه به دا وي چې خاصې کلیمې او اصطلاحات ونومول شي، د پرګنو لخوا نه کارول کیږي، بلکې د ټولنې د اوچتنې کوچنې قشر لخوا کارول کیږي. سربیره پر دې ګړدودونه خپل ګرامري سیستم او د کلیمو بنسټیزه زیرمه نلري. له دې امله، دا ګړدودونه شونتیا نه مومي چې خپلواکو ژبو ته بدلې شي.

خو بل اړخ ته، سیمه ایزه («محلي») ګړدودونه، د پرګنو لخوا کارول کیږي او خپل ګرامري سیستم او د ځانګړو کلیمو بنسټیزه زیرمه لري. له دې کبله ځینې سیمه ایزه ګردودنه د ملتونو د جوړیدو په بهیر کې دا شونتیا لري چې د ملي ژبو لپاره بنسټ چمتو او خپلواکو ملي ژبو ته پرمختګ وکړي. د ساري په توګه د روسي ژبې د کورسک ـ واریول ګړدود (کورسک ـ واریول «خبرې») چې د روسي ملي ژبې بنیاد یې جوړ کړ. همدا ډول دا خبره د اوکرائیني ژبې د پولتاوا ـ کیف ګړود په اړه هم سمه ده چې د اوکرائني ملي ژبې لپاره یې بنسټ جوړ کړ. خو د دې ژبو نورو ګړدودونو، خپله اصیلتیا ورکه کړه، له دغو ژبو سره یوځای شول او په هغوی کې ورک شول.

معکوس بهیر هم رامینځته کیږي، کله چې د اقتصادي پرمختګ د اړینو شرایطو د نشتون له امله یو ملیت په ملت نه بدلیږي، د دغه ملیت واحده ژبه د ملیت د دولت د تجزیې په پایله کې له منځه ځي، خو سیمه ایزه ګړدودنه چې لا یې وخت نه دی موندلی چې په واحده ژبه کې په بشپړ توګه ورته والی ومومي، بیا راژوندی کیږي او د جلا خپلواکو ژبو د جوړیدو لپاره بنسټ جوړوي. ممکن، دا بیلګه د ساري په توګه دمنګولیایي واحدې ژبې په اړه صدق وکړي.

**۱۱جولای ، ۱۹۵۰** ـ پراودا، ۲ اګست ، ۱۹۵۰